سلطان جان کلیوال ۲۰۱۸/۱۱/۲۴

# عجب ویش!!

یو گل می له چا وغوښته، غوټچه یی راته راکړه
هوا د روهـ د ملک، پاکه سوچه یی راته راکړه

باور چـی مـی پـلار وکـه، د کـوز کلـی په مُـلا
مُـلا کتــاب را نـکـه، تـمـانـچــه یی راته راکړه

پـرون تبــادُلـه وه ، پـه بـازار کی د کـونـــدونـو
درنه برخـه یی ځـانتـه کـړه، کچـه یی راته راکړه

لا لا راسـره ویش کـړه، شـتـمنـي پاتـی له پلار
نور هرځه د لا لا شو، مرغانچه یی راته راکړه

باغونه د منـو یی کـړه، تقسـیم خپلـو بچـو تـه
چنجو خوړلې وچـه، الـو چـه یی راته راکړه

حیـران نه یم اخلاص ته، ددی مینـي پښـتنی
چی ډکه له ښکلا، د ژوند باغـچـه یی راته راکړه

پـرون یی راتــه و ویی، هــیـر نـکـړی کلیواله!
هرځـه پـه دی کی لـیـکه، کتابـچـه یی راته راکړه



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com